# د ترون د ورکولو د پریکړې خبرتیا

**موضوع:** د سوفوز فایروال چمتو او تدارک کولو پروژې ترون د افغان سکلز ګروپ نتورکینګ شرکت ته د ورکولو د پریکړې خبرتیا.

د تدارکاتو قانون د دري څلویښتمې مادې د دویمې فقرې له مخې، په دې وسیله ټولو ته خبر ورکول کېږي چې د افغانستان بانک په پام کې لري، څو د اعتباراتو د ثبت او مالي خدمتونو د پراختیا لوی آمریت لپاره د سوفوز فایروال چمتو او تدارک کولو پروژې ترون د افغان سکلز ګروپ نتورکینګ شرکت ته ورکړي، چې د D-63771 شمېرې جواز لرونکې او اصلي استوګنه یې د کابل ولایت، 10 ناحیه شهرنو د حاجي یعقوب څلور لارې کې دی، د ترون ټولیزه بیه /1,434,000- یو میلیون څلور سوه او څلور دېرش زره افغانۍ ده.

هر هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې په دې اړه کومه نیوکه ولري، کولای شي د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې له حکمونو سره سم، خپله نیوکه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه تر **پنځو (۵) تقویمي ورځو** پورې، په لیکلې بڼه، د دلایلو او مستنداتو په ملتیا، د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې د کابل په **ابن‌سینا واټ** کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د ترون د عقد کولو په معنا نه ده، او تر هغه چې پورته یاده شوې موده پای ته ونه رسېږي او ورپسې ټول قانوني مراحل بشپړ نه شي، ترون به نه عقد کېږي.

دافغانستان بانک، ابن سناوات،کابل افغانستان/ تیلفون:0093(20)2104146/ ایمیل /info@dab.gov.af:ویب سایتwww.dab.gov.af
شبکه های اجتماعی فیسبوک – دافغانستان بانک / تویتر / AFGCentralbank@ – انستا گرامAFGCentralbank -